## ۷. رمضان د فتوحاتو  او بریالیتوبونو میاشت ده
## د معتصم په وسیله د «عمورېې» فتحه




**الحمد لله الذي فتح أبواب الجنان لعباده الصائمين، والصلاة والسلام على أشرف الأنبياء والمرسلين، المبعوث رحمة للعالمين وآله وصحبه الطيبين الطاهرين، ومن تبعه وسار على دربه، واهتدى بهديه واستن بسنته، ودعا بدعوته إلى يوم الدين**

***ژباړه:*** *د هغه الله سبحانه وتعالی ثنا او ستاینه چې د روژه نیونکو بندګانو لپاره یې د جنتونو دروازې پرانیستې دي او له نبیانو او رسولانو څخه پر هغه غوره نبي او رسول الله ﷺ سلام او درود چې د ټولې نړۍ لپاره رحمت رالېږل شوی همداراز د هغه پر کورنۍ او اصحابو رضوان الله علیهم اجمعین دې سلام او درود وي او پر هغو کسانو دې سلام او درود وي، چې د هغه پیروي یې کړې او پر لاره یې روان شوي، د هغه په هدایت سره یې سمه لاره موندلې او د قیامت تر ورځې پورې یې د هغه په بلنه سره دعوت کړی وي.*

**اما بعد:**

**د ایمان ورونړو!**

د درېیمې هجري پېړۍ په لومړۍ نیمایي کې پر عباسي دولت دوو سترو قدرتونو یرغل وکړ:

لومړی: د مجوسو دولت، چې د "بابک خرمدین" له پیروانو جوړ شوی و، چې د ۲۰ کالو په اوږدو کې یې ۲۵۵ زره نرینه او ښځینه مسلمان ووژل.

دویم: د بیزانس یا شرقي روم امپراتوري، چې د قسطنطنیې او آناتولي پاچا "تیوفیلوس" د زوی میکائیل پر لښکرو یې تکیه کړې وه او له مسلمانانو سره جګړې ته یې تر ۱۰۰ زره زیات جنګي ځواک چمتو کړی و.

کله چې اسلامي اردو پر بابک فشار راوړ او زیات نظامیان یې د شرق پر خوا واستول، چې د جګړو په تاریخ کې یې چا ساری لیدلی نه و، په همدغه وخت کې د اسلام د دو دښمنو تیوفیلوس او بابک پیغامونه رد و بدل شول.

تیوفیلوس په شرق کې له بابک خرمدین څخه د فشار کمولو په موخه په شمال کې له مسلمانانو سره جګړې ته راودانګل. کله چې "محمدیه" لښکر په اذربایجان او ارمنستان کې د مجسویانو د رهبر په ځپلو بوخت و، تیوفیلوس هغه اسلامي ښارونه چې د اناتولي پر لاره پراته وو، لکه "ملطیه" او "زبطره" له تېغه تېر کړل، مسلمانې ښځې یې بندیانې او د سپین‌ږیرو سترګې یې وربانډې وایستې. د ماشومانو پوزه او غوږونه یې پرې کول او داسې غمیزې یې رامنځته کړې، چې په ویلو یې د انسان بدن په لړزه راځي. څنګه چې د هغې خاورې اردو په بابک کې پر جګړه بوخته وه، نو ده له دغه فرصته ګټه پورته کړه.

د هغو ښځو له ډلې چې د زبطرې او عموريې تر منځ د تيوفيلوس په اسارت کې راغلې وې، يوه ښځه له بني هاشمو څخه وه، چې د عزت، زړورتيا او شرف بېلګه وه او په دې ښه پوهېده چې خليفه او امير المومنين معتصم بن هارون الرشيد په دنيا کې د عزت، شجاعت او شرف ساتنه کوي؛ ځکه د مسلمانانو امام او د لښکر رهبر دی، ميليونونه زړور او غيرتي جنګيالي د ده تر امر لاندې دي، د الله دين ته نصرت ورکوي او وړتيا لري چې هر ډول ستره سختي له منځه يوسي.

**د ايمان ورونړو!**

د ۲۲۳هـ.ق/ ۸۳۸م کال په مارچ کې د يوې ژمنۍ ورځې غرمه کې امير المومنين په "سامراء" ښار کې په خپله ستره ماڼۍ کې ناست و، شاوخوا يې درباريان او د ماڼۍ کسان راټول، چې ساتونکی ورته راغی او عرض يې وکړ، اې امير المومنينه! يو سپين‌ږيری مسلمان چې د روم له اسارته راتښتېدلی، په دروازه کې دی او د ننوتو اجازه غواړي. اجازه يې ورکړه، راننوت او ويې ويل: اې امير المومنينه له عموريې نه راغلم او هلته بندي وم. د زبطرې د بنديانو د يوې ښځې فرياد مې واورېد، چې وامعتصما نارې يې وهلې، که څه هم ستا او هغې تر منځ زيات غرونه او وچې دښتې پرتې دي! زه له زندانه راوتښتېدم او زيات خطرونه مې ومنل، ترڅو د هغې غږ تا ته راورسوم!

اميرالمومنين معتصم بن هارون الرشيد چې د دغه سپين‌ږيري خبرې واورېدې، ژر پورته شو او د هغې ښځې فرياد ته يې لبيک وويل، د بغداد قاضي عبدالرحمن اسحاق، يو ستر عالم شعبه بن سهل او ۳۲۸ نور عادل کسان يې راوغوښتل او ورته ويې ويل: «زه د الله سبحانه وتعالی په لاره کې ځم، ترڅو هغې مسلمانې ښځې ته نجات ورکړم، چې د روم له ښارونو څخه يې پر ما غږ کړی او ښايي ښېرته راونه ګرځم، تاسو دې شاهد وئ چې ما خپله ټوله شتمني په درېيو برخو ووېشله، يوه برخه مې خپل زوی، يوه مې د الله سبحانه وتعالی په لاره کې او يوه برخه مې خپلو غلامانو ته وروبښله.»

بيا يې امر وکړ چې په ماڼۍ کې د لښکر د عمومي بسيج غږ پورته کړي! بيا يې د خپل اس زين وتاړه، د خپل سفر توښه يې ورسره واخيسته او امر يې وکړ، چې دومره ستر لښکر جوړ کړي، چې تر اوسه يې په ځمکه کې ساری نه وي ليدل شوی!

لښکريان يو په بل پسې په امير المومنين پسې روان شول، يو شمېر آنکارا او عموريې ته د رسېدو لپاره د ساحل لاره ونيوه او د "طرطوس او مرسين" له څنګه تېر شول او يو شمېر نورو له قونيې څخه ځانونه ورسول او نور لښکريان له داخلي لارو خپل هدف تعقيب کړ، په دغو لارو کې لښکر نه ځايېده، ځکه يې له څو لارو بريد وکړ. اناتولي او کلاوو ته يې اور واچوه او د ۲۲۳ هـ.ق په ربيع الاول چې له ۸۳۸م سره سم دی، آنکارا ته ورسېدل او ښار يې ويجاړ کړ.

**د ايمان ورونړو!**

کله چې معتصم د دغه ښار کار يو طرفه کړ، د عموريې په لور وکوچېد. عموريې د هغه مهال خورا سخت امنيتي تدابير درلودل او روم ته له قسطنطينيې هم مهمه وه. له کلاګانو، برجونو او دېوالونو څخه چې د هغه مهال خورا لوړ دېوالونه وو، ښکته شول او له منجيقونو او نورو وهم اچوونکو وسايلو څخه په استفادې د همغه کال په رمضان مياشت کې ښار ته په ننوتو بريالي شول او څنګه چې ننوتل، د هغې ښځې مرستې ته ورغلل چې کمک يې غوښتی و. له زندانه يې ازاده کړه او هغې ته يې لومړۍ کلمه "لبيک، لبيک" وه.

په تاريخ کې راغلي چې امير المومنين معتصم خپله په دغو پېښو کې نظامي تحرکات مديريت کول او خپلو لښکريانو ته يې اوامر صادرول. ده خپله د دې جګړې نقشه جوړوله او د بريد محل يې تعيناوه.

**د ايمان ورونړو!**

معتصم چې کله د بابک له وژلو او د ده د خاورې له فتحه کېدو وزګار شو، فرمان يې ورکړ چې د کشف لپاره داسې مجهز لښکر ولېږي، چې تر اوسه هېڅ خليفه داسې تجهيزات نه وي ليدلي او له ځان سره يې دومره جنګي وسايل، توښه، اوښان، حيوانات، غوړي، اسونه او قچرې يوړل چې هېڅا يې مثال ليدلی نه و او د غرونو په څېر لښکرو سره د عموريې په لور وخوځېد. د کشف لښکر کې خپل مشهور جنګي اميران ګومارلي او طرطوس ته نږدې د سيند په غاړه يې واړول.

د روم پاچا له خپل لښکر سره معتصم ته راغی او دواړه لښکر یو بل ته دومره نږدې شول، چې تر منځ یې څلور فرسنګه واټن و. دا په داسې حال کې وه، چې د مسلمانانو یو رهبر ورم ته ننوتی و او د روم لښکر یې تعقیباوه. د روم پاچا خپل یو شمېر لښکریان د مبارزې لپاره ورولېږل او نور له ده سره پاتې وو، په دې توګه د روم لښکر سست او کمزوری شو. د اسلامي لښکرو یو رهبر د روم له پاچا سره جګړې ته ورودانګل او په ټول ثبات له رومیانو سره وجنګېد، تردې چې زیات رومیان یې ووژل او یو شمېر نور یې ټپیان کړل او د روم پر پاچا غالب شو. د روم پاچا ته خبر ورسېد چې پاتې لښکر تېتبدلی او پاشل شوی. نوموړی ژر بېرته وګرځېد، ویې لیدل چې لښکر یې پاشل شوی، خپلو نږدې کسانو ته په غوسه شو او له قهره یې خپله غاړه پرې کړه!

دا ټول اخبار معتصم ته ورسېدل او دی یې خوښ کړ، بیا ژر تر ژره له خپلو لښکریانو سره د آنکارا په لور وخوځېد، کله چې ښار ته ننوت، ټول خلک تېتبدلي وو. بیا معتصم خپل لښګر په درېیو برخو ښې، چپ او مرکز ووېشه او د هر لښکر تر منځ واټن دوه فرسنګه و. هر یوه قوماندان ته یې امر وکړ، چې خپل لښکر په ښې، کیڼ، مرکز، مخکینۍ او د لښکر په وروستۍ برخه ووېشي او هر کلي ته چې رسېدل هغه یې نیوه، افراد یې بندي کول او شتمني یې په غنیمت نیوه. د معتصم او آنکارا د لښکریانو تر منځ اوه منزله وو، لومړی کس چې عموریې ته ورسېد د لښکر د ښۍ برخې امیر و، د پنجشنبې په غرمه چې د رمضان پنځه ورځې وتلې وې، هلته ورسېد، یوه دوره یې ترې وکړه او دوه میله لرې یې خېمه ووهله. بیا د جمعې په سهار معتصم راورسېد، ده هم د ښار په شاوخوا دوره وکړه او نږدې یې خېمه ووهله. د دغه ښار خلکو بشپړه اماده‌ګي نیولې وه او برجونه یې له وسلو او افرادو ډک کړي وو. دا یو لوی ښار و، چې لوړ دېوالونه او زیات ستر برجونه یې درلودل.

معتصم برجونه د جنګ پر امیرانو ووېشل او هر امیر ځان خپل برج ته ورساوه. یو شمېر مسلمانان چې نصراني شوي وو او له نصراني ښځو سره یې ودونه کړي وو، چې امیر المومنین یې ولید، اسلام ته راوګرځېدل، ځانونه یې خلیفه ته ورسول او متعصم ته یې د دېوالونو ځینې ځایونه وښودل، چې سېلاب ویجاړ کړي وو او بېرته اساسي نه وو رغول شوي. معتصم فرمان ورکړ چې منجنیقونه د عموریې اطرافو ته نصب کړئ او لومړی ځای چې تخریب شو، هماغه برخه وه چې بندي ورښودلې وه. ښاریانو هغه ځایونه د لرګیو په انبارونو بېرته وصل کړل، خو منجنیقونو پرلپسې بمباري کول او دې چارې هم په درد ونه خوړل او په دېوالو کې هماغه ځایونه وران شول. د عموریې والي د روم پاچا ته یو لیک ولیکه او حالت یې ورته بیان کړ او لیک یې د دوو غلامانو په لاس وراستوه. د مسلمانانو لښکر له دغو غلامانو سره مخ شو، د لښکر امیر وربانديې مشکوک شو او ترې ویې پوښتل: څوک یاست؟

ویې ویل: د مسلمانانو د یوه امیر ملګري.

دا دواړه یې معتصم ته وروستل او اقرار یې وربانديې وکړ، چې د والي لیک یې ورسره موند او په هغه کې د محاصرې حال، د ښار له دروازو څخه د لښکر د ناڅاپي وتلو تصمیم او له مسلمانانو سره بوختوونکی جنګ پکې لیکل شوي وو.

**د ایمان وروڼو!**

معتصم چې له دې موضوع خبر شو، امر یې وکړ چې غلامانو ته ډالۍ او جامې ورکړئ، غلامان ژر مسلمان شول. خلیفه امر وکړ، چې دا دواړه د ښار په اطرافو کې وګرځوي، پیسې وربانديې وپاشي او د عموریې د والي لیک چې د شام پاچا ته یې لیکلی و، هم ورسره و. رومیانو دوی دواړه ښکنځل او لعنت یې وربانديې وایه.

بیا معتصم پر روم د ناڅاپي برید تدابیر ونیول. په دې توګه رومیان سست شول او مسلمانانو خپلې محاصرې ته دوام ورکړل او پر دې سربېره د منجنیقونو او نورو جنګي وسایلو په وسیله یې خپل بریدونه نور هم سخت کړل.

معتصم چې ولیدل چې خندق ډېر ژور دی، د کلاوو دېوالونه لوړ او منجنیقونه کار نه ورکوي، دوی د لارې په اوږدو کې ډېر زیات پسونه په غنیمت نیولي وو، پسونه یې پر خپلو لښکریانو ووېشل او امر یې وکړ چې هر سړی دې یو پسه ذبحه کړي او له خوړلو وروسته یې دې څرمن له خاورو ډکه او خندق ته یې دې وغورځوي. لښکریانو دا کار وکړ او خندق د ځمکې له سطحې سره سم شو. بیا یې امر وکړ چې پر هغه دې خاوره واچول شي، چې جنګي وسایلو ته لار هواره شي او وربانديې نصب یې کړي. خو الله سبحانه وتعالی په دغه کار د ده

اړتیا پوره کړه. خلک د ویجاړ شوي پله پر سر وو، چې منجنیق نړولی و او د دوو برجونو تر منځ دېوال چپه شو، خلکو د دېوال د چپه کېدو له امله لوړ اواز واورېد او چا چې نه و لیدلی، فکر یې وکړ چې رومیانو خپله بوختوونکې حمله وکړه.
معتصم یو څو کسان ولېږل چې په خلکو کې غږ وکړي، چې دا اواز د دېوال د ړنګېدو و، نو مسلمانان ډېر خوشحاله شول. خو د دېواله تخریب دومره نه و، چې د معتصم ستر لښکر ترې تېر شوی شي.
روم د دېواله پر هر برج امیر ګومارلی و، ترڅو د هغه ساتنه وکړي. هغه امیر چې دېوال د ده په ناحیه کې وران شوی و، کمزوری شو او له نورو امیرانو نه یې مرسته وغوښته، خو هر یوه د ده له همکارۍ ډډه وکړه او ویې ویل: موږ به د هغه څه ساتنه پرېنږدو چې ورباندې ګومارل شوي یو!
**د ایمان ورونو!**
څنګه چې دا امیر د نورو امیرانو له همکارۍ نهیلی شو، معتصم ته د خبرو اترو لپاره ورغی او ده ته چې ورورسېد، معتصم خپلو لښکریانو ته امر وکړ، چې له هغه ځایه ننوځي چې له جنګیالیو خالي شوی.
مسلمانان له همغه سوري ننوتل او رومیانو یوازې اشاره ورته کوله، خو له ځانه د دفاع وړتیا یې نه درلوده او ډېر مسلمانان ورننوتل. رومیان له خپلو ځایونو وپاشل شول او مسلمانانو به چې هر ځای موندل، وژل یې. رومیان مجبور شول چې په یوه خورا ستره کلیسا کې راټول شي، مسلمانانو یې دراوزې په زور خلاصې کړې او دننه چې څوک وو، ټول یې ووژل، د کلیسا دروازو ته یې اور واچوه او څه چې پکې وو، وسوځېدل! رومیانو ته هېڅ امن ځای پاتې نه شو، یوازې د عموریې د والي ځای امن و، ځکه چې هغه ډېر قوي جوړ شوی و.
معتصم پر خپل اس سپور شو او د عموریې د والي کلا ته ورسېد. نارې وهونکي ناره وکړه: افسوس دې وي درباندې اې والي! امیر المومنین درته راغلی، له داخله دوه ځله اواز راغی چې والی نشته.
معتصم په قهر ببرته وګرځېد او امر یې وکړ، چې زینې نصب کړئ. پیغام رسوونکی ورغی او ورته ویې ویل: هلاک شې، د امیر المومنین فرمان ته تسلیم شه او راښکته شه. نومړي ډډه وکړه، خو بیا په داسې حال کې راښکته شو، چې توره یې په اوږه ځوړنده وه. امیر المومنین ته راوړل شو، امیر المومنین په کمچینه پر سر وواهه او امر یې وکړ، چې دی د اهانت په ډول د خلیفه د وهلو ځای ته یوسئ او بندي یې کړ.
مسلمانانو له عموریې دومره مالونه په غنیمت یووړل چې اندازه یې نه شي بیانېدی، څه یې چې وړلی شول یو یې وړل او پاتې نور یې وسوځول. دغه‌راز منجنیقونه او نور جنګي وسایل یې وسوځول، ترڅو رومیان ګټه ترې وانخلي. معتصم په عموریه کې ۲۵ ورځې تېرې کړې او د همدغه کال د شوال په وروستیو کې طرطوس ته ولاړ.
په اناتولي کې پر رومیانو د عباسي دولت دا بری او د بابک په فتنه کې، چې ۲۰ کاله اوږده شوه، پر مجوسیانو بریا پر دې خورا صادق دلیل دی، چې الله سبحانه وتعالی له مسلمانانو سره د خپل نصرت د وعدې په پوره کولو کې صادق دی، کله چې مسلمانان په خپل دین کې اخلاص ولري او د آخرت ژوند په کمه بیه -چې لنډ ژوند او د هغه بېکاره لذتونه دي- وپېري. الله سبحانه وتعالی دې پر هغو ورځو رحم وکړي، چې مسلمانان په ټوله معنی مسلمان وو او هغه سبحانه وتعالی دې ژر داسې ورځې راولي چې اسلام او اهل یې عزت پکې ومومي او کفر او اهل یې پکې ذلیل شي.
**او په پای کې اې د ایمان ورونو!**
له الله سبحانه وتعالی غواړو چې د رمضان میاشتې په دغو غوره او مبارکو ورځو کې زموږ سترګې د خلافت دولت په لیدو خوږې کړي، موږ خپل وفادار او اخلاصمن پوځیان وګرځوي، اسلامي امت ته د عزت او برکت ورځې ببرته راوګرځوي او په ځمکه کې هر څه ورته چمتو کړي. له الله سبحانه وتعالی ښخه غوښته کوو، چې دا هر څه په نږدې وخت په رمضان کې زموږ په لاسونو تر سره کړي او الله سبحانه وتعالی پر دغو ټولو ځواکمن او ولي ذات دی.

**والسلام علیکم و رحمت الله تعالی و برکاته**

استاد محمد احمد النادی